| | | |
|---|---|---|
| جمهورية مصر العربية | | ١٢ رمضان ١٤٤٠هـ |
| وزارة الأوقاف | لغة البشتو | ١٧ مايو ٢٠١٩م |

(١)

## روژه د سخا ښښني او د برياليتوبونو مياشت ده

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: {الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} ژباړه:« کوم خلك چي خپل مالونه شپه او ورځ په ښکاره او په پټه لګوي، د هغو ثواب د هغو له رب سره دی او هغو ته هيڅ وېره او انديښنه نشته؛»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی په حديث کې فرمايي: «د هري ورځي سهار چې په انسان باندي راځي په هغه ورځ کې ورته دوه ملائکي ورښکته کيږي او د هغوي څخه يو وايي: يا الله! ته مصرف کوونکي او صدقه ورکونکي ته د هغه بدل ورکړه، او دوهمه ملائکه وايي:يا الله! د بخيل انسان مال له منځه يوسه»، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

په حقيقت کې اسلامي دين د ارزښتونو او د ښه اخلاقو مثال دی، او د هغو نيکو اخلاقو د جملي څخه چې زمونږ مبارک دين پر هغي امرکړی هغه د سخاوتمندئ او ښښني اخلاق دي، ځکه چې دا اخلاق د پيغمبرانو د غوره اخلاق او د نيکانو د نيکو صفاتو څخه دي، او پدغه اخلاقو سره د خلکو ترمنځ ورورولي مينه او محبت رامنځته کيږي، نو ددغه اخلاقو په لرلو سره يو پياوړي ټولنه رامنځته کيږي او دغه ټولنه پر ملي پيوستون اخلاص وفاداری او په ښښني باندي ولاړه وي، او په پايله کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ددغه وينا مفهوم پلي کيږي چې فرمايي:«د مسلمانانوترمنځ د ميني او د مهرباني اړيکه او نمونه د يو بدن د غړيو په

شان ده هرکله چې یو غړی په درد شي نو ټول جسم ورسره په درد او عذاب وي».
سخاوتمندي او ښنه د الله تعالی د صفاتو د جملی څخه یو صفت او د نومونو د جملی څخه يي يو نوم دی، نو الله تعالی هغه سخاوتمند او کرم کوونکي دی چې هیڅکله د هغه د کرم او سخاوت دروازي نه تړل کيږي او هیڅکله د هغه ښنه او ورکونه نه ختمیږي، او غوښتونکي خالی لاس نه راګرځوي، او امید لرونکي نه مایوسه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: په ریښتیا سره خدای تعالی سخي ذات دی چې عطا او ښنه خوښوي، سخاوتمند او سخاوتمندي خوښوي، او په بل قدسي حدیث کې فرمايي: «... ای زما بندګانو! تاسو ټول ګمراهان یاست مګر هغه چې زه ورته هدایت وکړم، نو تاسو مانه هدایت وغواړئ چې تاسو په سمه لاره روان کړم، ای زما بندګانو! تاسو ټول وږي یاست مګر هغه چې زه ورته روزي ورکړم، نو تاسو مانه روزي وغواړئ ترڅو زه تاسو ته روزي درکړم، ای زما بندګانو! تاسو ټول بربنډ یاست مګر هغه کس چې زه ورته لباس ورکړم نو تاسو مانه لباس وغواړئ ترڅو زه تاسو ته لباس درکړم، ای زما بندګانو! تاسو هرکله شپه او ورځ ګناه کوئ او زه ټول ګناهونه دربښم نو مانه د مغفرت او ښني غوښتنه وکړئ ترڅو زه تاسو ته ښنه وکړم،.. اي زما بندګانو! که ستاسو د جملي نه اول او آخر انس او جن ټول په یو کتار کې راولاړ شی او مانه وغواړی زه ستاسو د هر یو غوښتنه اورم او تاسو ته يي درکوم پدي ښني سره هغه څه چې ماسره دي نه کمیږي لکه څرنګه چې یوه برخه د اوبو د سمندر د اوبو څخه څه نه کموي.
قرانکرم ددي بیان کړی چې عطا او ښنه د پغمبرانو د خصلتونو څخه یو خصلت دی، الله تعالي د ابراهیم علیه السلام د کیسي په هکله داسي فرمايي:« هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ * إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ * فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ * فَقَرَّبَهُ

إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ»ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] ايا د ابراهيم (ع) د معززو مېلمنو كيسه درته رسېدلې ده؟، كله چې هغوی د هغه كره راغلل، نو ويې ويل: "پر تا سلام دئ." – ابراهيم (ع) وويل: "پر تاسي هم سلام دئ."- (ابراهيم (ع ) د ځان سره وويل) څه نا اشنا غوندي خلك دي، بيا هغه غلی غوندي خپلي كورنۍ ته ورغی، او تازه وريت كړی خوسی يې راوړ، د مېلمنو مخي ته يې وړاندي كړ، ورته وې ويل: "ايا تاسي يې نه خورئ؟"» او هغه ته يي د هغه د كرم او سخاوت د صفاتو د لرلو سره يي د ميلمه پالني لقب وركړی وو.
او الله تعالي مونږ. ديته هڅوي ترڅو د يو بل اكرام او احترام وكړو ترڅو د كرم او فضيلت او غوراوی اهل وګرځو، لكه څرنګه چې الله تعالی فرمايی:«وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ» ژباړه:« ستاسي څخه چي كوم كسان د مالي وس او قدرت خاوندان دي، هغوی دي ددې خبري قسم نه كوي چي له خپلوانو، مسكينانو او د خدای دلاري له مهاجرينو سره مرسته ونه كړي. هغوی بايد عفوه وكړي او ورڅخه تېر دي شي. ايا تاسي نه غواړئ چي الله ببښنه درته وكړي؟ - الله ښه ببښونكی او ډېر مهربان دی.» او همداسي په بل ځاي كې الله تعالی فرمايي:« مَّثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ»ژباړه:« كوم خلك چي خپل مالونه د الله په لار كښې لګوي، د هغو د لګښت مثال داسي دی، لكه چي يوه دانه وكرله شي او له هغې څخه اوه وږي زرغونه شي او په هر وږي كښي سل دانې وي. په همدې ډول كله چي د چا عمل ته د الله خوښه شي، زياتوالی په كښي راولي. الله (ج) هم پراخوونكي او هم د علم څښتن دی» او همداسی په بل ايت كې فرمايي:« لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى

حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ» ژباړه:« نېکي يوازي دا نه ده چي تاسي (د لمانځه په وخت کي) خپل مخونه ختيځ لوري ته واړوئ، يا لوېديځ لوري ته؛ بلکي نېکي دا ده چي انسان پر الله، د قيامت پر ورځ، پر پرښتو، د الله پر نازل کړای شوي کتابونو او د هغه پر پېغمبرانو د زړه له کومي ايمان راوړي. او د الله په مينه کښي خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو» او په بل ايت کي فرمايي:« وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا * إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا * إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا * فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا»ژباړه: « او د الله په مينه کښي مسکين، يتيم او بندي ته خواړه ورکوي، (او هغو ته وايي چي) موږ تاسي ته يوازي د الله په خاطر خواړه درکوو. موږ ستاسي څخه نه څه بدله غواړو، نه مننه، زموږ سره خو د خپل رب څخه د هغي ورځي د عذاب وېره ده چي د سخت کړاو ډېره اوږده ورځ به وي، نو الله تعالیٰ به دوی د هغې ورځي له شر څخه وژغوري او دوی ته به ترتازګي او خوشحالي ورکړي».

او د روژي مبارکه مياشت تل د ښښني سخاوتمندئ او د کرم مياشت ده، ځکه چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم د سخاوتمندترين انسانانو څخه وو، او ترټولو زيات سخاوت به يي د روژي په مبارکه مياشت کي کولو، د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په خلکو کي ترټولو ډير سخي وو، او زيات سخاوت به يي د روژي په مبارکه مياشت کي چي کله به يي د جبرييل عليه السلام سره ليدلو سرته رسولو، او د روژي مبارکي مياشت په هره شپه کي به يي ورسره ليدل او د هغه څخه يي قران زده کولو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم په خير کي تر سخت باد نه هم سخي وو».

لکه څرنګه چي زمونږ پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم مونږ په هر حال کي د نورو سره د غذايي توکو ورکړي ته هڅولي يو لکه چي

فرمايي: اى خلکو! سلام ورکول خپل منځو کې خپور کړی، او نورو ته د خپل توان په اندازه خواړه ورکړئ، او په هغه حال کې تاسی لمونځ اداء کړئ چې خلک ویده وي، نو په سلامتی سره جنت ته ورداخل شئ، او همداسي په هر حالت کې مونږ يي د میلمه پالني او د میلمه احترام ته هڅولي يو لکه چې فرمايي: څوک چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ باندي ايمان لري نو د خپل ميلمه قدر او عزت دې وکړي.
نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته دا بيانوي چې خواړه ورکول او د ميلمه پالنه او د هغه احترام پدغه مبارکه مياشت کې لوي اجر او ثواب لري، لکه څرنګه چې فرمايی: که يو څوک يو روژه دار ته روژه ماتی ورکړي نو هغه ته د هغه د روژي په اندازه اجر ورکول کيږي، دا په هغه حال کې چې د خپل د روژي د اجر څخه يي هيڅ هم نه کميږي، نو دا اجر د هر هغه چا په برخه کيږي چې يو روژه دار ته افطاري ورکوي برابره خبره که دا روژه دار غريب وي او مالدار، د خپلوانو او د ملګرو څخه وي او يا بل څوک وي، ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په عام لفظ (روژه دار) سره يي دا ذکر کړی دی، نو غريبانو ته د خواړه ورکولو او د هغو د ضرورتونو د پوره کولو ترڅنګ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په وينا کې يو بل شرعي مقصد هم وجود لري چې هغه د خلکوترمنځ پدغه مبارکه مياشت کې د خو اړيکو د ټينګولو څخه عبارت دی، او دا اړيکي هغه وخت سره ټينګيږي چې کله دوي په يو دسترخوان سره کيني برابره خبره ده که دا د کورنيو دسترخوان وي او که د ملګرو او خپلوانو دسترخوان.
همدارنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديث څخه راخيستل شوی مفهوم هر هغه څه ته شامليږي چې يو شخص يو روژه دار په واقعي ډول سره دعوت کړي او هغه ته روژه ماتي تيار کړي او خواړه ورته چمتو کړي، او يا هم هغه ته يو څه اندازه مال صدقه ورکړي يا هديه ورکړي تر څو د هغه په واسطه وکولی شي خپله روژه ماته کړي نو پدي حديث

کې هدف دوه موضوع ګاني دي: اول ملي پیوستون او هغه داسې چې د روژې په مبارکه میاشت کې د خلکو په منځ کې لوړې او محتاج او محروم باید شتون ونلري، دوهم: د میني او محبت رامنځته کول او د ټولنیزو اړیکو ټینګښت د خلکو ترمنځ په عام ډول سره او په خاص ډول د روژې په مبارکه میاشت کې.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب مونږ ته د الله د رضا د لاسته راوړلو لپاره په ښښني عطا او سخاوتمندي کې یو ښه نمونه او مثال دي، په خاص ډول سره د سختیو او د مشکلاتو په وخت کې، ترڅو چې یو واقعي یووالي او همکاري او صمیمت رامنځته شي، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم اشعریان په یووالي او همکاري کې چې د هغوي ترمنځ وو توصیف یې کړی لکه چې فرمایي: که چیرته اشعریانو د خپل ځان نه په جنګونو کې کونډې پرځاي پریښي او یا هم د هغو د کورنیو خواړه په مدینه کې کم شوي نو هر څه چې لري هغه په ټوټه کې راجمع کوي او بیا هغه پخپل منځ کې په برابره ډول ویشي، نو هغوي زما او زه د هغو یم.
او د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمایي: ابوطلحه د مدینې د انصارو ترمنځ ترټولو ډیر مالداره وو او د هغه په نزد ترټولو غوره مال (بئرحاء) وو، او هغه د جومات په څنګ کې وو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګه چې به د هغه ځاي څخه تیر شو نود هغه د خوږوو اوبو څخه یې څښکل، انس رضي الله عنه وایی: کله چې دغه ایت نازل شو:« لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ »ژباړه:« تاسي نېکی ته هیڅکله نشئ رسېدای تر څو خپل هغه شیان (د خدای په لار کښي) ونه لګوئ چي تاسي ته ګران وي»ابوطلحه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغي او وی ویل: ای د الله رسوله! دا معلومه خبره ده چې دا ایت تا لپاره نازل شوي {لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ} ژباړه: « تاسي نېکی ته هیڅکله نشئ رسېدای تر څو خپل هغه شیان (د خدای په لار کښي) ونه لګوئ چي تاسي ته ګران وي»او په ریښتیني سره ماته ترټولو

غوره مال د خپل مال څخه (بئر حاء) دی او هغه می د الله په لاره کي صدقه کړی او امید لرم چې ددی ثواب او اجر به د الله په نزد ماته ذخیره شي، نو ای د الله رسوله لکه څنګه چې الله درته هدایت کړی دا هماغسی کیږده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: واه واه، دا دی ګټور مال، دادی ګټور مال، هغه څه چې تا وویل ما واوریدل، او زما په نظر دا غوره دی چې ته دا خپل خپلوانو ته ورکړی، ابوطلحه وویل: ای د الله رسوله همداسی کوم، نو هغه یي د خپل خپلوانو او کاکا زامنو ترمنځ وویشولو.

نو مونږ څومره داسی غوره اخلاقو ته اړتیا لرو، او مونږ ته لازمه ده چې د هر ډول بخل او ځان غوښتني څخه ځان وساتو، ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:زما د امت څخه ندی هغه چې پخپله شپه په مړه خیټه تیروي او ګاوندي یي وږي وي او دا په داسي حال کي چې دا د هغه د حال نه خبر دی، همداسی بل ځاي کې فرمایی: ای د آدم زامنو! که تاسو اضافه مال مصرف کړی او فقیرانو ته نفقه ورکړی غوره ده د هغه نه چې ته یي خپل ځان سره وساتی، خیرات او صدقات اول د خپلو خپلوانو څخه پیل کړه، او د صدقه ورکونکی پورته لاس غوره دی د هغه ښکته لاس نه چې صدقه اخلي، او په بل حدیث کې فرمایي: که یو څوک د بل چا د سپورولو توان پخپل حیوان باندی لري نو هغه دی پر هغه سپور کړي، او هغه کس چې ډیر لري او ورسره اضافه دی نو باید هغه چاته ورکړی چې نلري.

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په

ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.
ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:
په واقعيت کې د نفس سخاوتمندي او کرامت ترټولو لوړ او د سخاوتمندۍ د لويو شکلونو څخه ګڼل کيږي، ځکه چې دا د نيکانو او ښه خلکو د صفت دی، او دا د فداکاريو د لوړو مرتبو څخه دی شاعر وايي:
خپل نفس بخښي کله چې بخل د هغه مانع ګرځي* د نفس بخښل د سخاوتمندي د لوړو اهدافو څخه دی.
او د نفس د بخښلو د لويو شکلونو څخه يو دا دی چې يو مبارز سرتيری په سرحد کې ودريږي او د خپل د وطن او خاوري او خلکو او آبرو او عزت څخه په ډير صابرانه ډول دفاع کوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی: يوه ورځ د مبارزي او مقاومت د خدای په لاره کې غوره د د نيا او د هغه د څيزونو څخه دي، او په بل حديث کې فرمايي: د جهنم اور به دوو سترګو ته نه رسيږي: هغه سترګه چې د خداي د ويري نه وژاړي، او هغه سترګه چې د الله په لاره کې د خداي د خاوري ساتنه او حفاظت کوي.، علاوه پر دی د ځان قربانول د دنيا او د آخرت کاميابی انسان ته په برخه کوي، الله تعال فرمايی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! له زغم څخه کار واخلئ، د باطل پرستانو په مقابل کښي مېړانه وښياست، د حق د خدمت لپاره ملا تېنګه وتړئ، او د الله څخه وېرېدونکي اوسئ، هيله ده چي برى ومومئ».
بی له شکه د روژي مبارکه مياشت د کاميابي او سرلوړی مياشت ده، ځکه چې الله تعالی مسلمانان پدغه مياشت کې بريا ته ورسول سره لدي چې د هغوي شمير او جنګي الات د دښمن په تناسب کم وو بيا هم الله تعالي ددغی مياشت په برکت هغوي بريا ته ورسول لکه چې الله تعالي فرمايی:« وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ * إِذْ

تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ * بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ * وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ» ژباړه:« له دې ښخه مخكي د بدر په جګړه كي الله ستاسي سره مرسته كړې وه، په داسي حال كي چي په هغه وخت كي تاسي ډېر زيات كمزوري واست. نو اوس پر تاسي دا لازمه ده چي د الله د ناشكرۍ ښخه ځان وژغورئ، درته په كار ده چي اوس شكر وباسئ، هغه وخت (ياد كړه) چي تا مؤمنانو ته ويل: "ايا تاسي ته دا كافي نه ده چي الله د درې زره پرښتو په را لېږلو درسره مرسته وكړي؟ بېشكه، كه تاسي د زغم په لرلو له الله ښخه په وېرېدو كار وكړئ، نو په كومه شېبه كښي چي دښمنان درباندي يرغل وكړي، په هماغه شېبه كښي به ستاسي رب (درې زره نه) پر پنځو زرو نښانه دارو پرښتو درسره مرسته وكړي، دا خبره الله ددې لپاره درته كړېده چي تاسي خوشحاله شئ او ستاسي زړونه پرې ډاډه شي. برلاسي او مرسته هر ښه چي دي، د هغه الله له خوا دي چي ډېر زورور او د حكمت خاوند دی».

د روژې په مباركه مياشت كې چې د هجرت اتم كال وو مكه مكرمه فتح شوه، او پدغه فتح كې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خو اخلاقو يوه غوره نمونه او مثال وو په خاص ډول په بخښني زغم او مهرباني كي، په هغه ډول سره چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغه كسان راجمع كړل چې هغه ته يي زيان رسولی وو او د كور او كلي ښخه يي بهر كړي وو او د هغه د وژلو لپاره يي دسيسي جوړي كړی وی، نو هغو ته يي وويل: ښه فكر كوي زه به تاسو سره ښه كوم؟ هغو وويل: حتما به مونږ سره نيكي كوی، ځكه ته زمونږ خه ورور او كريم وراره يې، وی فرمايل: ولاړ شی تاسی ټول آزاد ياست.

د ۱۳۹۷ هجري كال د روژې مباركي مياشت چې د اكتوبر د مياشتي شپږم تاريخ او ۱۹۷۳ كال سره سمون خوري د روژې لسمي ورځي

جنګ چي د عزت او کرامت جنګ وو پیل شو، هغه پداسی ډول چې الله تعالي زمونږ پوځ ته بریا په برخه کړه او زمونږ پوځ هغه پوځ ته ماتی ورکړ چې هغوي هیڅکله د ماتي فکر نه کولو داسی حمله یي پری وکړه چې هغوي خپل عقل د لاسه ورکړ، او غرور یی ورته د ښپو لاندي کړ، او ټول نړی یي دیته اړ کړه ترڅو د مصر ملي پوځ ته درناوي وکړي، او د مبارزو سرتیرو شعار: الله اکبر ، روژه، د شپي ویښ پاتي کیدل او قرانکریم تلاوت او ریښتیني دعاء وه، نو په پایله کې ښکاره بریا زمونږ په برخه شوه، او تجاوز کوونکي دښمن وشړل شو، دلته مونږ د هغو د شربښندنو او هغه شهادت یادونه کوو چې د مصر ملي پوځ د خپل د وطن آزادی او د خپل د دین خاوري آبرو عزت د د فاع لپاره ورکړي دي هغه شهیدان چې بخپلو پاکو وینو یي دا خاوره خړوبه کړی ده.

تر دی دمه زمونږ قهرمان مسلح قوتونه یو قوي امنیتی سپر زمونږ د ګران مصر او د اسلامي او عربي امت لپاره دي، او تر دی حاله د هغه وفاداره افسران د تروریزم په مقابل کې په جګړه ولاړ دي، او تل او هره ورځ د وطن د امنیت ، عزت، کرامت د دفاع په لاره کې قربانی ورکوي، او د نورو په څیر چې ژوند خوښوي دوي د شهادت لپآره کوښښ کوي، او دوي د هر هغه با ارزښته څیز د قربانولو لپاره د وطن او د خاوري د دفاع په لاره کې چمتو دي، او همدارنګه پوره چمتوالي لري د هر هغه لاس قطع کړي چې وغواړي د مصر امنیت او استقرار لمنځه یوسي، نو دا پوځ په تاریخ کې د ملت سپر او پاتی شوی چې تاریخ ددی ګواه دی.

اللهم آت نفوسنا تقواها، وزكها أنت خير من زكاها، أنت وليها ومولاها.